# فیفا: د ټاکنیزو سیالیو له پیل د جولای تر۱۶مې نېټې پورې د څارنې رپور

**۶ سیپټمبر 2010**
کابل

د افغانستان دآزاد او عادلانه ټاکنوبنسټ (فیفا) ددوشنبی په ورځ دولسی جرګي دیوتن نوماند وژنه په کلکه محکومه وی،او دټولو امنیتی چاروکو څخه غواړی چه په ۱۸ سیپتمبر درایی اچوني دمرکزونو دساتنی اومنیت لپاره کوټلي اوموثرتدابیرونیسي.
دټاکنې دکمپاین له لومړی ورځ څخه تردی وخته دری تنه دولسی جرګي نوماندان او دټاکنیزکمپاین ۱۱ تنه کارکوونکي وژل شویدي،او په ګڼ شمیرکې کسانوباندی وسلواله حمله شویده او ډول ډول ګواښونه ورته شویدي، او آن تردی چه تېپیان شوی هم دي، دغه حملې دهغه قانون ماتوونکو او خپل سرو وسلوالو لخوا ترسره شویدي چه نه غواړي په هیواد کي دولسي جرګي ټاکنې ترسره شي او یا بی نتیجي پاتي شې.
دطالبانو ویاند: ذبیح الله مجاهد د اګست په ۴ نیټه دمطبوعاتو سره په خبرو کي وویل: ټاکنې او دټاکنو سره تړاو لرونکي: امنیتي چارواکي، کمپاین کوونکي، دټاکنوکارکوونکي او رایی اچونکي زمونږنښه او هدف دي . دافغانستان دآزاد او عادلانه ټاکنوبنسټ (فیفا) دطالب ویاند دغه وینا په کلکه رد او محکومه وي.
دافغانستان دآزاد او عادلانه ټاکنودبنسټ (فیفا) ریس محترم نادرنادری وایی: زه له طالبانو څخه غواړم چه په ټاکنو کي دخلکو انتخاب ته احترام وکړي . طالبان باید نړیوالو قوانینو په رعایت کولو سره مکلف دي چي په خلکو دحملو کولو څخه ډډه وکړي اوټول نوماندان باید دديموکراتیک سیستم په چوکاټ کي دصلحی په فضا کې دخپل هدف دترلاسه کیدو لپاره مبارزه وکړي.
دکمپاین په بهیرکې دتخارپه ولایت کی داګست په ۲ نیټه دناټو په هوایی برید کي د ولسی جرګی دټاکنو دکمپاین ۱۰کارکوونکي ووژل شوو، چه دغه پیښه لاتراوسه پوری دڅیړنې لاندی ده .
ددی پیښي په اړوند زه په تاکید کوم چه دناټو ځواکونه دی دنښي په ویشتلو کی له زیات دقت څخه کاروا‌خلي ترڅو دولسې وګړو دمرګ او جوبلي مخ نیوي وشې،
نادری زیاته کړه چه : افغان امنیتی چاروکي دی دټاکنو پرمهال دی دساتنی او حافظت تینګ تدابیرونیسي ترڅو خلک په ټاکنو کي په ډاډه زړه پراخه ونډه واخلي.

دټاکنو څارونکي ګروپونو او مطبوعاتو د ۲۳جون۲۰۱۰ نیټې څخه راپیدخوا راپور په لاندې ډول ترتیب کړی دی :

| قربانیان | په ټاکنو کي دهغوی رول | ولایت | ولسوالی / ځای | دحملې نیټه | تفصیلات |
|---|---|---|---|---|---|
| دوکانداران | دټاکنودکمپاین ملاتړکوونکی وو او دیو نوماند پوستربی په خپل دوکان ځړوه. | لوګر | برکی بارک | ۱۴جولای۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شواو خلکوته په ټاکنو کي دنه ګډون ګواښ کول |
| کمپاین کوونکی | داحمد مبشردپاره کمپاین کوونکی | لوګر | چرخ | ۱۶ جولای ۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شوو. |
| کمپاین کوونکی | دمحمدنادرحقوقمل دپاره کمپاین کوونکی | لوګر | تدخاک | ۱۶جولای ۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شوو. |
| دوه کمپاین کوونکی وروڼه | دانجنیرمبشردپاره کمپاین کوونکی | لوګر | برکی بارک | ۱۶جولای | دشپی لخوادطالبانو لخوا ووژل شول. |
| سعیدالله سعید | نوماند | خوست | اسماعیل خیل | ۲۴جولای ۲۰۱۰ | دټاکنو دکمپاین پرمهال دلاسی بم په واسطه دطالبانو لخوا ووژل شو. |
| کمپاین کوونکی | دشکیلا دپاره کمپاین کوونکی | لوګر | برکی بارک | ۲اګست ۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شواو خلکوته په ټاکنو کي دنه ګډون ګواښ کول |
| نجیب الله ګلستانی | نوماند | غزنی | قره باغ | ۱۷اګست ۲۰۱۰ | دتښتولو وروسته دطالبانولخوا ووژل شو. |
| پنځه کمپاین کوونکی چه ټول نارینه وو او عمرونه یی د ۲۰څخه تر۳۵پوری وو | دفوزیه ګیلانی دپاره کمپاین کوونکی | هرات | ادرسکان | ۲۷اګست ۲۰۱۰ | دتښتولو وروسته دطالبانولخوا ووژل شو. |
| عبدالمنان هاشمی نورزی | نوماند | هرات | شینډند | ۲۸ اګست ۲۰۱۰ | دجومات څخه دوتلو پرمهال په ګولیو وویشتل شو. |
| کمپاین کوونکی | دنقیب الله فایق دپاره کمپاین کوونکی | فاریاب | قیسر | ۳۰اګست ۲۰۱۰ | په هغه بمی بریدکي ووژل شو چه هدف یی نوماند وو. |
| ۱۰تنهکمپاین کوونکی | کمپاین کوونکی | تخار | روستاق | ۲سپیتمبر | ۸ تنه کمپاین کوونکی دناتودځواکونو په هوای برید کي ووژل شول. |

مطبوعاتی څانګه :
دافغانستان دازاد او عادلانه ټاکنو بنسټ (فیفا)

دکورشمیره : ۳۸۴
سرک : ۵
ناحیه : ۶
دټلیفون شمیره : **0799225841**
بریښنا لیک: **media@fefa.org.af**